مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۶/۰۱/۱۸

# د یهودو عادلانه جګړې
## (یوسل او شلمه برخه)



(جان. اېډګر هوور، د اېفـبيآی رییس)

### ولې امریکايي سیاستوال له اسراییلو، د خپل سر او مال په بیه دفاع کوي؟ (۳)

### د اېف.بي.آی، بدنام اسناد (بلکـمېل)

له اسراییلو څخه د امریکايي چارواکو د ملاتړ بل عامل د اسراییلو لهخوا د امریکایانو وېرول دي، داسې چې دوی به اټومې وسلې وکاروي چې په دې کار سره به هم نور له منځه یوسي، هم به په خپله له منځه ولاړ شي.
وړاندې له هغې چې په دې هکله مالومات وړاندې کړو، ښه به وي چې لومړی په امریکا کې د کورنیو استخباراتو د اېفـبيآی مشر **(جان. اېډګر هوور)** لهخوا د امریکا د ولسمشرانو، چارواکو او سیاستوالو بلکـمېل کولو او پټو دوسیو په جوړولو مالومات وړاندې کړو، سره له دې چې د اېفـبيآی د رییس اېډګر هوور کړنې د امریکا او اسراییلو په اړیکو پسې اړه نه لري او تر ډېره زموږ له څېړنې بهر موضوع ده، بیا هم اړینه بولم چې د اېفـبيآی د بلکـمېل پر کړنو خبر شو چې څرنګه یې د خپل واک د ساتلو په موخه امریکايي چارواکو ته دسیسې او دوسیې جوړولې:

جی. اېډګر هوور، جرمنتوکمه، د مسیحي دین د پروتست مذهب (پریسبیټېرین) د مذهبي کلیساګانو په چاپېریال کې لوی شوی او تر خپل مرګه پورې د نوموړي مذهب لاروی ؤ.
اېډګر هوور په کال ۱۹۲۴ز. کې د څېړنیزې ادارې (BOI) د مشر په توګه وګمارل شو، نوموړې اداره د امریکا د عدلیې وزارت تر اغېز لاندې وه، هوور د دې پر ځای چې د عدلیې وزارت ته مهم مالومات ورکړي، ولسمشر **(فرانکلین دلانو روزوېلټ)** ته یې ډېری پټ مالومات رسول چې هوور ته د دغې جاسوسۍ په بدل کې، ولسمشر روزوېلټ د بشپړې آزادۍ او واک منظوري ورکړه او په ۱۹۳۵ز. کال یې د نوموړې ادارې نوم د فدرالي تحقیقاتو اداره( Federal Bureau of Investigation) نوم پرې کېښود چې په لنډو (FBI) ویل کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په پای کې د هوور واک داسې کچې ته ورسید چې ولسمشر روزوېلټ هغه د (FBI) له مشرۍ څخه نه شو ګوښه کولی ځکه چې (FBI) د ولسمشر روزوېلټ او نورو چارواکو په اړه د بدنامۍ دوسیې ترتیب کړي او بلکمېل کړي یې وو. سربېره پر دې، هوور د سیاستوالو او چارواکو په منځ کې د بدګومانۍ او دښمنۍ فرهنګ هم رامنځ ته کړ.

هوور، د امریکا پر ولسمشرانو سربېره، د ګڼو سیاستوالو، وکیلانو، قاضیانو او چارواکو جنسي، اخلاقي او شخصي کمزورۍ ثبت کړي وې.
څېړونکي په دې اند دې چې هوور د امریکا د ولسمشرانو او چارواکو په تړاو، د بدنامۍ دوسیو جوړول، د خپل واک د ساتلو، سیاسي کنټرول او د دوی د وېرولو په موخه بلکمېل کول چې له امله یې هغه د اېف‌بي‌آی د رییس په توګه، د نوموړي اداري له جوړېدو ۱۹۲۴ز. کال څخه، د ده تر مرګه ۱۹۷۲ز. کال پورې، ۴۸ کاله د اېف‌بي‌آی رییس پاتې شوی دی چې د ده هممهالو ولسمشرانو ونه شول کولی هغه له دندې لرې کړي، یوازې مرګ ؤ چې ویې کړای شول هغه له دندې ګوښه کړي.

د امریکا ولسمشر **(هري ټرومېن)** د (FBI) له واک څخه په وېره کې ؤ، هغه په خپلو یادښتونو کې لیکلي چې هوور غواړي له اېف‌بي‌آی څخه د نازي جرمني، د هیټلر د (ګوشتاپو) د پټو پولیسو په څېر یوه اداره جوړه کړي.[1]
ټرومېن ونه شول کولی هوور له دندې لېرې کړي ځکه چې هغه د خپل ځان او نورو پر ضد د پټو رازونو او دوسیو له رسوا کېدو څخه په وېره کې ؤ.

همدارنګه هوور د امریکا ولسمشر **(جان اېف. کېنېډي)** په تړاو هم د جنسي اړیکو او اخلاقي ژوند په هکله پټ مالومات ساتلي وو، د کېنېډي ورور، لوی څارنوال (رابرټ کېنېډي) غوښتل چې هوور ته تقاعد ورکړي چې په دې کار کې ناکام پاتې شو. لوی څارنوال په دې پوه وو چې له دندې د هوور شړل یوه سیاسي ځانوژنه ده. **«ولسمشر کېنېډي هوور یو حرامزاده کس باله.»**[2]
هوور د ولسمشر جان اېف. کېنېډي د ترور په هکله مالومات لرل خو هغه غلی پاتې ؤ، هغه د کېنېډي کورنۍ د کمونستانو او نازي جرمنیانو پلوي بلله، په دې بنسټ، هوور په دې خوښ ؤ چې ولسمشر کېنېډي ووژل شي.
د امریکا د ۱۹۶۸ز. کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې، کله چې رابرټ کېنېډي (د جان اېف. کېنېډي ورور) د ډیموکرات ګوند نوماند شو او د نیکسون پر وړاندې یې د محبوبیت کچه ډېره لوړه وه، شواهد ښیي چې د FBI مشر هوور، د رابرټ کېنېډي د ترور له توطیې څخه خبر ؤ خو هوور غوره وګڼله لاسوهنه ونه کړي، هوور د رابرټ کېنېډي افکار د نوي ډول سوسیالېزم په توګه ارزول. رابرت ووژل شو او نیکسون د ولسمشرۍ په ډګر کې یوازینی مخکښ پاتې شو.[3]

د امریکا ولسمشر **(لېنډن بي. جانسون)** ځان اړ باله چې له هوور څخه ملاتړ وکړي، جانسون په وېره کې ؤ چې هوور، د ده په اړه بدنامووونکي اسناد لري. جانسون د هوور په تړاؤ دا مشهوره خبرې کړي دي:**«ښه ده چې هغه (هوور) زما په خیمه کې دننه وي او بېدیا میتیازې وکړي، د دې پر ځای چې بهر وي او د خیمې د ننه ته میتیازې وکړي.»**[4]

همدارنګه ولسمشر **(ریچارډ نېکسن)** هڅه کوله اېف‌بي‌آی تر خپل کنټرول لاندې راولي خو هوور پر نېکسن هم د پټو مالوماتو دوسیه درلودله، هغه مهال چې د واټرګېټ پېښه رسوا شوه نو ولسمشر نیکسن له جدي ننګونو سره مخ شو. (که څه هم هوور، له ولسمشرۍ څخه د نیکسن له ګوښه کېدو مخکې مړ شو) خو د هغه راټول کړي مالومات چې وروسته د هوور د یو مرستیال (مارک فلد) لهخوا خبري رسینو ته ورکړل شول نو **په پایله کې نیکسن د ولسمشرۍ څخه استعفا ته اړ شو.**

د هوور له ټولو ناوړه او جنجالي کړنو څخه یوه هم د کوینټلپرو(COINTELPRO)  د اېف‌بي‌آی د استخباراتو ضد پټه کړنلاره  وه چې موخه یې د تور پوستو د تور پړانګ (Black Panther Party) په نوم مدني غورځنګ او د

[1]:https://www.bbc.com/persian/world-61937938

[2]:هماغه سرچینه

[3]:https://nostalgic.blogfa.com/post/308/
[4]:https://nostalgic.blogfa.com/post/308/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



(مارټین لوتر کینګ جونیور)

ویتنام د جګړې مخالفو فعالانو د کړنو له منځ وړل یا کمزوري کول وو. د تور پړانګ ګوند چې مشري د **(مارټین لوتر کینګ جونیور[5])** لهخوا کېدله، په امریکا کې د توکمیز توپیر پر وړاندې مبارزه او د تورپوستو د انساني حقونو غوښتونکی ؤ چې اېډګر هوور د دوی د خوځښتونو سخت مخالف ؤ.

د دغه غورځنګ مشر، مارټین لوتر کینګ ته د اېفبيآی لهخوا په امریکا کې له ټولو ښخه د خطرناک سړي ستاینوم (لقب) ورکړای شوی ؤ. هوور د نژادي مساواتو له هڅو کرکه کوله، ده هڅه کوله ثابته کړي، هغه امریکایان چې د برابرۍ لپاره مبارزه کوي، په حقیقت کې د یوې کمونېستي دسیسې ښکار شوي دي. هغه د مارټین لوتر کینګ ښخه چې د یو کمونېست په تور نیوکه پرې کېدله، کرکه کوله.

د هوور اداري، اېفبيآی، مارټین لوتر کینګ د ځوروني موخه وګرځاوه، **اېفبيآی، کینګ ته ګواښونه کول چې د هغه د جنسي مکالمو په اړه مالومات «چې اېفبيآی د پنځو کلونو په اوږدو کې د غږیزو اوریدنو له لارې ترلاسه کړي وو) رسوا کوي.»**[6]

هوور د کینګ کور او دفترونه وپلټل او هغه یې تر څار لاندې ونیو. اېفبيآی د کینګ د سیاسي بیانیو او اسنادو په لټه کې ؤ، ترڅو وکړای شي له کمونیزم سره د هغه اړیکې ومومي **خو پر ځای یې د کینګ د شخصي اړیکو په اړه شواهد وموندل او هماغه یې د کینګ د ګواښلو لپاره وکارول. هغوی کینګ ته په یو بېنومه لیک کې ولیکل: «ستا لپاره د خلاصون یوازینۍ لار شته چې هغه ستا ځانوژنه ده.»**

هوور، کینګ د هېواد تر ټولو بدنام او دروغجن کس بللی ؤ، **هغه خبریالانو ته بلنه ورکړه چې د کینګ په هوټل کې ثبت شوي غږیزې خبرې واوري** ترڅو ثابته کړي چې د هوور په وینا (اخلاقي فاسدان[7]) د مدني حقوقو د غورځنګ مشري په لاس کې لري.[8]

کینګ په ۱۹۶۸ز. کال کې د امریکا د (ممفیس) په ښار کې ترور شو. کله چې د کینګ د ترور خبر اېډګر هوور ته ورکړل شو، هغه وویل: **«هیله ده دا لعنتي مړ نه شي، که هغه مړ شي نو له ده به یو اتل شهید جوړ کړي.»**[9]

---

[5]: **مارټین لوتر کینګ جونیور**، یو افریقایي تور پوستی امریکایی، مسیحي کشیش او مدني فعال ؤ چې د ۱۹۶۴ز. کال، د اکتوبر په ۱۴مه نېټه یې د توکمیزې نابرابرۍ پر خلاف د نهتاوتریخوالي د مقاومت (عدم تشدد) له لارې د مبارزې له امله د نوبل د سولې جایزه وګټله. کینګ د خپل ژوند په وروستیو کلونو کې خپلې هڅې د فقر، پانګوالۍ او د ویتنام د جګړې پر ضد مبارزو ته وغځولې. کینګ، په ۱۹۶۸ز. کال کې د بېوزلو امریکایانو په مرسته د واشینګټن، ډي.سي. د نیولو لپاره پلان جوړاوه، چې د اپرېل ۴مه نېټه د امریکا د (ممفیس) په ښار کې ترور شو. د کینګ ترور لا تر اوسه، د ولسمشر جان اېف. کېنېډي په څېر په تیاره کې پاتې دی. د کینګ تر مړینې وروسته، په ۱۹۷۷ز. کال کې هغه ته د ولسمشرۍ د آزادۍ د وياړ مډال او په ۲۰۰۳ز. کال کې د امریکا د کانګرس، د سرو زرو مډال ورکړ شو. د مارټین لوتر کینګ جونیور د زوکړې ورځ له ۱۹۷۱ز. کال وروسته د امریکا په ځینو ښارونو او ایالتونو کې د رسمي رخصتۍ په توګه ونمانځل شوه او په ۱۹۸۶ز. کال کې، د فدرالي تصویب او د رونالډ ریګن پر لاسلیک، د امریکا په متحده ایالاتو کې رسمي رخصتیو وګرځېده. په امریکا کې سلګونه سړکونه د کینګ په نوم نومول شوي دي او د واشینګټن ایالت تر ټولو ګڼ مېشتي ولسوالۍ هم د هغه د درناوي په خاطر (د کینګ ولسوالۍ) ونومول شوه. همدارنګه، د مارټین لوتر کینګ جونیور یادګاري ودانۍ د واشینګټن، ډي.سي. په نشنل مال کې د هغه د وياړ او یاد لپاره جوړه شوې ده.

[6]: *«Theoharis, Athan G. ; Poveda, Tony G. ; Powers, Richard Gid; Rosenfeld, Susan (1999). The FBI: A Comprehensive Reference Guide. Greenwood Publishing Group. p. 123.*

[7]: **جان اېډګر هوور** په خپله یو بداخلاقه همجنسپال (لواطتکار) کس ؤ، هغه هېڅکله یې واده ونه کړ، د هغه نږدې او اوږدمهاله اړیکه له همجنسپال (کلاید تولسون) چې د ده مرستیال، نږدې ملګری او وارث ؤ، ځواکمن اټکلونه او پراخ تاریخي تحلیلونه شتون لري چې کلاید تولسون همجنسپال ؤ او ښایي له اېډګر هوور سره یې نږدې جنسي اړیکه درلودلې، هوور خپلې جنسي اړیکې په سختۍ سره پټولې، هر هغه چا به چې په دې اړه خبرې کولې، د ده له ګواښ سره مخ کېده.

[8]:. https://www.thoughtco.com/j-edgar-hoover-4588944

[9] :https://www.bbc.com/persian/world-61937938



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جان اېډګر هوور يو مرموز سپين پوستی متعصب پروتست مذهبه کس ؤ، هغه د امريکا لپاره ځيني ګتوري کړنې هم کړي دي، نوموړی «د خپل ژوند پر مهال ډېر وستايل شو او نږدې ۸۰ سلنه ملاتړ يې درلود، ځينو ولسمشرانو او چارواکو ستايلی او مډالونه يې ورکړي دي.

له هوور سره داسې پټ رازونو شتون درلود چې دا رازونه يې له سياستوالو نيولې د امريکا تر ولسمشرانو پورې د يوې ډارونکي وسلې او وسيلې په توګه، نږدې نيمه پېړۍ وکارول او ټول يې په دې توګه تر خپل نفوذ او کنټرول لاندې ساتلي وو.

هوور که په ژوندوني ستايل کيده خو نن ورځ ډېری خلک هغه يو داسې کس بولي چې د خپل واک د ساتلو لپاره يې **د خپلو خلکو پر ضد جاسوسي کوله، د ښو او وړ چارواکو شخصيتوژنه يې کوله او هغوی يې بدنامول.**

دا وو د امريکا د کورنيو استخباراتو، ايفبيآی د مشر جی. اېډګر هوور، لهخوا د امريکايي واکمنانو او سياستوالو بلکميل کولو په اړه لنأ مالومات چې وړاندې شول.

نېټه:۱۴۰۴/۱۰/۲۹ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اخڅر نوري ليکنې په دی لينک کې ولولئ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ